محمد ایاز نـوري

۲۰۱۵/۸/ ۱۹

د افغانستان د خپلواکۍ د ۹۶ کالیزې په مناسبت د اعلیحضرت غازی امان الله د زوی والاحضرت ډاکټر احسان الله(د افغانستان) د مبارکي پیغام

د لوی خدای په نوم

زما ګرانو وطنوالو افغانانو، خویندو او وروڼو!



خپل او د خپلې کورنۍ د هرغړي بهترین سلامونه او تودې مبارکۍ د هیواد د خپلواکۍ د ۹۶ کالیزې په مناسبت تاسو هر یوه حضور ته رسوم.زما لویه آرزو وه چې دا مهمه او تاریخی ورځ تاسو سره له نژدی ولمانځم لیکن قسمت نه وه...!. مګرله بلی خوا ډیر خوښ یم چی افغانی ملګرو دا امکان ماته برابر کړچی تاسو او ستاسو ټولو درنو کورنیو ته د امانی استقلال په یاد مبارکي عرض کړم. په دې مهمه ورځ می غوښتل له هغو کسانو یاد وکړم چې د خپلواکۍ د استرداد په لاره کې شهیدان شویدي، ځکه په دې ستره ملي معرکه کی مونږ افغانان د هغوی پوروړي یو. ذکراو یاد د عزیز هیواد د آزادۍ او د اعلیحضرت مرحوم امان الله خان څخه، دا پخپله یوه عظیمه موضوع ده. سره له دې چې د افغانستان پخوانیو حکومتونو تر ۱۹۶۵ ز کال پورې غوښتل زما د پلار نوم او کارنامی یې له منځه یوسي مګر د دې ناروا عمل سره سره بیا هم زما د پلار نوم د هر افغان وګړي په زړه کی ژوندۍ وه او یقین لرم، چې د هغه غازي پاچا نوم به د افغان ولس په ذهن کی تل پاتی او نه هیریدونکۍ وي.

کوم وخت چې امان الله خان د بادشاهۍ پر تخت کښیناست وې ویل: " زه غواړم د یوه مستقل هیواد پاچا اوو سم" او په دې عین کی یی خپله ورسره توره له پوښه راوویستله او وې ویل:

تر څو افغانستان په بشپړه توګه له غاصب څخه آزاد نه کړم دا توره به بیرته په پوښ کی نه کړم؛؛ او خپله وینا یی داسي ختمه کړله: **"افغانستان د افغانانو لپاره...!!"** او ورپسي یی د ۱۹۱۹ ز کال د فروري په ۲۱ نیټه د بشپړ استقلال اعلان وکړ، لیکن د انګریز دولت هغه ونه مانه. په دوام ځوان پاچا انګریز ته د جګړې اعلان ورکړ او پس له جګړې او اوږدو خبرو اترو انګریزي دولت د ۱۹۱۹ ز کال د اګست د میاشتې په ۱۹ نیټه زمونږ د ګران هیواد مکمل استقلال تصدیق کړ. ټولو افغانانو او

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د مختلفو طبقو خلکو او ملایانو د امان الله خان دا عمل او لوی بری تقدیر کړ. زما پلار د بادشاهی مقام ته د رسیدو څخه پس داسی وویل:

"زمونږ په هیواد کی مختلف قامونه لکه پښتانه، تاجک، ازبک او هزاره گان اوسیږي او ټول یو ورور ملت اوټول افغانانو یو..."

زما گرانو افغانانو! د افغانستان راتلونکي د ځوانانو او ږون اندو په لاس کی ده. زه دلته بیا د غازی امان الله خان خبره تاسو ته یادوم، کوم وخت یی چی افغان ځوان زده کوونکي مخاطب ول:

«زه شخصا پر تاسو حساب کوم ځکه چی تاسو ځوانان د هیواد د جوړونې تیران یاست! په ټوله نړۍ کی یو کوچنی شمیرځوانان نور وگړي ځان پسی رهبر ي کوي او شه مناسب انساني ژوند ځانونو ته جوړوي...»

زما آرزو هم زما د خپل پلار په شان می ده، چی د افغانستان ځوان نسل زما د پلار او زما د مور ملکي ثریا مترقی پروگرامونو ته دوام ورکړي.

افغان ځوانانو! که په هیواد کی یاست که بهر، د وطن مینه تل په خپلو زړونو کی وساتی، لکه زه چی ټول ژوند د هیواد د اوسیدو څخه محروم او بی برخی وم، لیکن تل او هر وخت وطن پال وم. کوم وخت چی زه په ۱۹۹۴ ز کال کی د سولې د یوه مجلس لپاره چی والی صاحب اسماعیل خان زمونږ د افغانستان د هرات په ښار کی جوړ کړی وه، د لومړي ځل لپاره خپل هیواد ته ولاړم، په رشتیا ما حس وکړ چی خپل وطن یعنی څه!! د خپل پلارني هیواد هوا می تنفس کړه، د خپلو وطنوالو سره یو ځای کیدل، ما باندی یی لوی تاثیر غورزولی وه، متحسس وم او احساسات می راپاربدل. زما په یاد دي چی زما پلار اعلیحضرت غازی امان الله خان د ژوند په وروستیو سلگیو کی هم د هیواد په فکر کی وه او هغه بالکل وروستي د ژوند الفاظ یی چی ویل یی:

" اې زما خدایا...!! اې کابله...! اې پغمانه...!! اې افغانستانه...!! اې زما د وطن خاورو...!!؛؛ او ورپسی یی سترگي ورباندې پټې کړې او نور هغه غازی وطن پال افغان خپل لوی خالق ته حاضر شوی وه...؟!.

گرانو افغانانو! نن مونږ او تاسو د هیواد د آزادي ۹۶ کلیزه په داسی یو حالت کي یادوو او لمانځو یې، چې په هیواد کي مو له اوږدې مودې نه جگړه روانه ده. د پردیو په لمسون او مداخله یو افغان ورور بل افغان ورور وژني. زما غوښتنه او هیله دا ده، چې افغانان پخپله سره جرگه شي، یو بل ومني او یو بل ته درنشت وکړي او په مینه او قانون کي سوکاله ژوند سره وکړي. یو ځل بیا تاسو ته د زړه د کومې د دې تاریخی ورځې مبارکي وایم.

ځښتن تعالی دي ستاسو یار اووسي.

داکتراحسان الله د افغانستان جینواء- سویسزرلند، اگست ۲۰۱۵ ز کال

ژوندی دي وي د افغانستان ملت!

ژوندی دي وي د غازي اعلیحضرت امان الله خان نوم

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ